د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

دوشنبه 19 شوال، ۱۴۴۵هـ | ۲۰24/۰4/28م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/18

مطبوعاتي اعلاميه

## په تخار ولایت کې د رمضان په ۲۷مه شپه د قيام‌الیل له امله د حزب‌التحریر د دعوتګرانو نیول کېدل

د تخار ولایت د استخباراتو ځواکونو د حزب‌التحریر ۴ تنه دعوتګران د رمضان په ۲۷مه شپه د تخار ولایت بنګي ولسوالۍ په چهارچنار جومات کې د قيام‌الیل، اسلامي مفاهیمو وړاندې کولو او د لمانځه په وقفه کې د قران کریم د تفسیر مخته وړلو په جرم نیولي. دې سره د تخار په زندان کې د حزب د توقيف شوو دعوتګرانو شمېر ۳۲ تنو ته رسېږي. دغه راز یو شمېر نور دعوتګران هم د رمضان په ۲۷مه شپه په ورته جرم د بدخشان په کشم ولسوالۍ کې نیول شوي دي، چې په زندان کې د یوې شپې او ورځې تر تېرولو وروسته د ځايي سپین‌ږیرو په منځګړیتوب ازاد شول. خو د کشم ولسوالۍ د امر بالمعروف مدیریت له ځايي سپین‌ږیرو څخه ژمنه اخیستې چې که هر وخت دغه دعوتګران په جومات کې راټول شي، نو دوی باید مسولین په جریان کې کړي.

له بلې خوا د کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت د هغو بندیانو د معافیت او خوشې کېدو په اړه د صادر شوي فرمان له مخې چې تر یوه کال لږه د بند موده یې پاتې وي؛ په تخار کې د محکمو مسولینو غله، لوټماران، زناکاران، شرابیان، شراب‌پلورونکي او ان د نظام هغه نظامي مخالفین ازاد کړل، چې د بند موده یې تر یوه کال کمه پاتې وه، خو د حزب‌التحریر هغه غړي یې ازاد نه کړل، چې د بند موده یې تر شپږو میاشتو هم کمه وه او تراوسه په زندان کې دي. همدارنګه د تخار ولایت د محکمو او استخباراتو مسولین پر دعوتګرانو فشار راوړي، چې له زندان څخه د خلاصون په بدل کې باید خپل ټول غیرمنقول مالونه او شتمنۍ لکه؛ ځمکه، کور او پلورنځي په ضمانت کې کېږدي؛ چې که یې له زندان څخه تر ازادېدو وروسته بیا دعوت وکړ د دوی دغه شتمنۍ به یې مصادره شي.

په حقیقت کې دغه ډول غیرشرعي اعمال د جبریه نظامونو څرګنده ځانګړنه ده. د نظام مسولین باید دې ته جدي پام وکړي چې هغه لاسته‌راوړنې چې د مجاهدینو او د افغانستان د مسلمان ولس په بې‌شمېره قربانیو ترلاسه شوې، داسې نه چې یو شمېر کسان یې په خپلو ناوړه کړنو سره تر پوښتنې لاندې راولي او بدنام یې کړي.

د یادونې وړ ده چې دغه ډول فشارونه حزب‌التحریر او غړي یې د دعوت له دوام او د خلافت د تاسیس لپاره له هڅو څخه نه شي راوګرځولی. ځکه دغو دعوتګرانو له الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د دغې سترې فریضې د مخته وړلو عهد او ژمنه کړې او د هېچا له ملامتۍ څخه وېره نه لري؛ د فشارونو او ستونزو پر وړاندې صبر او پر عزیز الله توکل کوي.

﴿وَمَا لَنَا أَلَّا نَتَوَكَّلَ عَلَى اللَّهِ وَقَدْ هَدَانَا سُبُلَنَا وَلَنَصْبِرَنَّ عَلَىٰ مَا آذَيْتُمُونَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ﴾ [ابراهیم: ۱۲]

**ژباړه:** *ولې پر الله توکل ونه کړو، په داسې حال کې چې هغه موږ ته د ژوند لارې رانبودلې دي. تاسو چې موږ ته کوم کړاوونه رسوئ، موږ به پر هغو صبر وکړو او توکل‌کوونکو ته پکار ده، چې پر الله توکل وکړي.*

موږ پر دې راسخه عقیده لرو، چې ژوند د ابتلاء او افشاء کولو پروسه ده او دا د تاریخ په اوږدو کې د الله سبحانه وتعالی سنت دی، چې دعوتګران به تل له ستونزو او ګواښونو سره مخ وو. همدغه فشارونه او سختۍ دي چې په پایله کې یې هم د مومنانو په صف کې تمحیص رامنځته کېږي او هم د دغو حوادثو په سبب په ټولنه کې د بېلابېلو ډلو هویت او اصلي څېره بربنډېږي او په دې توګه صادق انسانان له کاذبو څخه بېلېږي. لکه الله سبحانه وتعالی چې فرمایي:

**﴿أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ * وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ﴾** [العنکبوت: ۳-۲]

**ژباړه:** *ایا خلک داسې فکر کوي، چې یوازې په همدې سره چې ووایي: ایمان مو راوړی (په خپل حال) پرېښودل کېږي او هغوی به نه ازمویل کېږي؟ په داسې حال کې چې موږ ټول هغه خلک ازمویلي چې له دوی څخه مخکې تېر شوي (او دوی هم ازمایو) الله خامخا هغه کسان معلوموي چې رښتیا وایي او هغوی هم معلوموي چې دروغ وایي.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**